د انټرنيټ د فارسی منابعـــو څخه
ژباړونکی (عزيزاحمد خوارمل)

لمړی برخه :

## د امريکي نوی زاړه پال،
## د نړي د ويجاړيو نظر ورکوونکي دي !

لاندنی مقاله د عربی سرليک المحافظون الجديد "منظرون الخراب العالم" د "علي عبدالعال" مصری ليکونکی د قاهری اوسيدونکی لخوا ليکل سويدی او د العالم ويب سايت ته استول شوي او په فارسی ژبه ژباړل سويدی چې پښتو ژباړه يې په لاندی توګه و محترم لوستونکو ته وړاندی کيږی .

نوی زاړه پال، دغه مطلب د هغه يو شميرروښان اندو په هکله دی چې په واشينګټن کې ناست دي او شمير يې د سلو (۱۰۰) او د دوو سوو (۲۰۰) تنو څخه زيات ندی، دوي د هغو نظرياتو او لړليدونو پلويان دي او دا هسی طرحي د ځانه سره لری چې غواړي امريکايي امپراطوری د وينو پر حمام، په وژنو، په وهلو او ټکه ولو او ترهګری باندی جوړ او رامنځته کړی او دغه داستان د ځنګله د نظريې غونډی ده چې يوشمير،و انسان ته ورته کسان هغه يې د حيواناتو څخه په ننګ سره اخيستی دی او دهغه پر بنسټ چور او چپاول، وژنې او ويجاړي يې د يوعادت په توګه دنړی و خلکو او بشريت ته يې وراړه ولی او رامنځته کړی دی، او تر دا اوسه يې د خوړلو شومه او خونديي لاپای ته ندی رسيدلی، او وينه يې د دوي په وحشی او ځيری کوونکو غاښونو کښې ليدل کيږی، او د خوړلو د شومی او خوند په هيله او د راتلونکی قربانی کولو په سوچ کې دي .

### کوم کسان نوی زاړه پال دي؟

نوی زاړه پال، يو امريکايي سياسی ډله ده چې د هغوي پلويان د ښي لاستی بنسټپالو مسيحيانو څخه ملاتړ کوي او پرنړی باندی د امريکی د واک او ښکيلاک په سوچ کې

دي سر بيره پردی چې دوي سياست پوهان هم ندی، مګر د دوي په منځ کې نامتو ليکوالان، پوهان، کړنلاره ليکوونکی، استراتيژيستان د مسلحو قواوو او د اردو پخوانی افسران او سربازان او يو شمير دامريکی د اوسنی مختلفو فکـــری ډلو ليوال او د نورو قشرونو، بنسټپال پلويان په دی زاړه پالو کښې ليدل کيږی . همــــــدارنګه دوي د صهيونيستي ايډی ملاتړ کوونکی هم دی چې د عـــربانو او مسلمانانو سره ډيره ټينګه او زيات سخت دښمنی لری او دجورج بوش د رياست جمهوری په دوران کښې يې د امريکی باندني سياسي چاری يې په خپل لاس کې نيولي دی .

صهيونستي ايډيا او کړنلاره د هغه سياست د اجرا کولو ترشا دی چې بيله کومه د پام وړ اعتراضيه او ګوت نيونی نه، د امريکی د نظامی ځواک څخه په کار اخيستنی سره د ټولوموخي د لاسته راوستلو په خاطر دغه عمل او کړنی روا کار بولی او د دوی په ادعا سره دغه کړنی سم کاربلل کيږی، ځکه د نوی زاړه پالو په هاند او عقيدی سره چې حقيقت او واقعيت يوازی د دوی په واک کې دی او دوسلی څخه په ګټه اخيستنی او کارولو سره کولای سی چې پرټولو باندی برلاسی او واک رامنځته کړی .همدا اوس دغه موضوع په روښانه ډول سره څرګنده ده چې د امريکی نوی زاړه پاله ډله د اسرائيل وسره ټينګی اړيکی لری او د تل ابيب د پاره د تعصب نه ډک، ملګري په توګه شميرل کيږی،او په همدی ډول سره د نوی زاړه پالو نظريه ورکونکی ډير زيات مشران او پوهان هم يهوديان دی .

يو شمير کارپوهان په دی باور دی چې د نوی زاړه پالو رامنځته کيدل د منځ لاری يهودانو او د زاړه پالو يهودانو د خپل منځی اختلافونو او خپل منځی جګړو په نتيجه کښې ددوي واکمنی او اغيزه د امريکی د يهودانو پر نړيوال لړليد باندی دی . نوی زاړه پال د خپلو کړنو او لړليدونو په انځورولو او لوبولوکې نوي دی، ځکه د امريکی د هيواد د جوړيدلو څخه زاړه پال فکرونه يو د بنسټيزو اصولو څخه شميرل کيدل او همدا اوس د دغوپه مخ کې نيول سويو کړنو تر سيوری لاندی او د جورج ډبيلو بوش

د سياسي کړنلارو او د زاړه پالو د بيده فکرونو پر بنسټ، ددی ډول د زور او د تيری د پلويانو او ددی ډلو د رامنځته کيدلوسبب وګرځيدی .

د جيمی کارتر د جمهـــــوری رياسـت په دوران کښي د يوشمير زياتو يهودی پوهـــانو او بنـــي لاسوډلو وتلــو د دموکرات له ګوند څخه، نوی زاړه پال غورځنګ جوړ او رامنځ ته سو، او جمهور رئيس د کين اړخو نويو ډلو کړنلاره يې ومنل، او دشوروی سره د ضديت نه، او د شوروی په وړاندی يې داخ او اډب څخه لاس واخيستل، او د زاړه پالو د طرحو او کړنوپه وړاندی په مخالفت کې ودريدل او د يو شمير نوی زاړه پالو غوښتنی يې چې د دندو د ترسره کولو په خاطر يې و جمهور رئيس ته يې وړانديز کړوو، جمهور رئيس دغه ډله يې په خپل دولت کې يې ونه منل او رد يې کړ .

نوی زاړه پالو وروسته ترهغه نه د پريکړندی سياست په مخ کې نيولو سره د نظامي واک د غښتلی کيدو د وړانديز نه يې پلوی وکړ، تر څو د شوروی سره مخامخ سيالی وکړلای شی ،له دی امله يې د جمهوريت پلوی ګوند و خواته يې مخه وکړ او د رونالد ريګن د جمهوری رياست په دوران کې چې د کړکيچ او آخ او ډب وايډی او مفکوری ته باوری او عقيده من وو،او د کين لاسو زغرنده ګونيونی يې چې د امريکی د فرهنګی چارو او کلتوری اړيکو په هکله يې درلودل، هغه يې رده ول او هيڅ يې نه منل ،چې دغه کړنی ددی سبب وګرځيدی ترڅو د زاړه پالو واک د امريکی پر باندنی سياست باندی زياتوالی ومومی، او وروسته له هغه نه دغه زاړه پالو د دموکرات ګوند يوه جلاشوی ډله شميرل کيدل ،بيله دا چې د جمهوريت پلوی ګوند په چوکاټ کې ورګډ سی او يوه سياسي ډله يې جوړه وله چې تحريف سوی عقايد يې د ځانه سره درلودل او د ((ريګن ددموکراتانو)) په نوم پيژندل کيدل ،اوپه پوهتونو،علمي

موسساتوکې دڅېړنواودتبليغاتی رسنيوپه مرکزونو کې تيت اوپرک او خواره واره سول . په همدی پړاوکې د ((زاړه پالوډله)) پراختيا ومونده‌په دا هسی حال کې چې غورځنګونه په دقيقه توګه سره دفکری او سياسي بدلونو سره د امريکی په ټولنه کښې يو شونی او وړ فضايې د فکرونو د پراختيا او دسياسي ډلو د جوړښت او د هغو د رامنځته **کيدو د پاره يې رامنځته کړی وو.**

## د نوی زاړه پالو لړليدونه او نظري

نوی زاړه پال په نړی کې ((نظامی واک)) يو بنسټيز او زار ((افزار)) او وسيله د کړکيچونو سره په مبارزه کې او د اخ او اډب په وړاندی يې بولی اوپه دی باوری دی چې نړيوال اړيکې پرواک ولاړ او تکيه دی او رښيتنی سوله، په ډيپلوماسی او په عدالت سره نه سی رامنځته کيدلی ،بلکی يوازی د جګړی د بريالیتوب په نتيجه کښې رامنځته کيدی سی

نوی زاړه پال وايي، هغه لړليدونه او نظريات چې په دی وروستيو کالونو کې په واشينګتن کې يې پراختيا موندلی دی، او د هغو لړليدونو او نظرياتو په سرکې دا هسی راغلی دی : دوي وايی ((باورخو دادی چې د امريکا د پاره دا اوس مهال ډير ښه او پراخه فرصت د نړيوال نظم په رامنځته کول کې رامنځته سوی دی))، دوي ددغه مطلب او ددغه لاس ته راغلی فرصت نه يې ملاتړکوی . او دوی بيا په زغرده سره د همدی لړليدونه او نظری پر دی فکتور او ايډی باندی هم ټينګار کوی،هغه دا چې د شوروی اتحاد و د جمهوريتونو د نړيدلو او دله منځه وړولو وروسته د امريکا هيواد د يو لاربښود په توګه دغه دنده يې په غاړه اخيستی دی اوهغه تش ځای چې د شوروی د نړيدو را وروسته رامنځته سويدی هغه ځای بايد ونيول سی او ډک کړل سی . دوي په دی باور دی چې په اوسنی شرايطو کښې ونړی ته د يو لاربښود اړتيا سته دی او د امريکی هيواد بايد دغه لاربښودنه په غاړه واخلی ،ځکه چې د امريکی

ښکیلاک او مطلق ځواکمن کیدل پر نړی باندی د ثبات منشاء او پایښت دی .له دی کبله نوی زاړه پال د لوېدیز او د نړی د نورو هیوادونو یووالی د امریکی تر لاربښودونی لاندی د یوی نوی نړیوال نظم د جوړښت په خاطرپه طبیعی توګه اړین بولی .

.همدارنګه نوی زاړه پال په پراخه ډول سره زیارباسی تر څو د بی وسلو کولو او د قانون ښه تره تطبیقولو او ګټور رول لوبولو څخه مخ نیوی وکړی او دنړیوالو سازمانونو د ښو چارو سرته رسول په نړیوال جوړښت کې نه منی او د هغه نه هم مخ نیوی کوی ،د ملګرو ملتونو د سازمان په وړاندی د دښمنی څخه کار اخلی او په دی باور دي چې نظامی واک دی باید د بهرنی سیاسي چارو لمړی سرلیک او لمړی پړاو کې دی وی .

نوی زاړه پال په دی باور دی چی د یوی نوی جوړښت د رامنځته کولو په خاطر کولای سی د عراق، افغانستان، لبنان او د ایران په هیوادونو کښی نظامی لاسوهنی وکړی، او دغه هیوادونه د بیلګی او سرلیک په توګه دی د امریکا د ځواک د پراختیا د پاره په لاسوهنو سره، چې ګواکی د خپلو دوستانو سره مرستي کوی ، او ونورو ته یې دا هسی وروپیژنی او وروښئی چې موږو خپلو دوستانو او ملګرو هیوادونو سره مرسته کوو. په همدی علت سره د ملی واکداری او دملی ځواکمنی محدوده لړلیدونه ،او همدارنګه د ملی واکداری او د ملی ځواکمنی له منځه وړل د تیری په وخت کي د امریکی دپلان شوکړنلاری د ګټو سره یوځای تبلیغ شوی او پراختیای موندلی دی، امریکائیان د بیرونکو نظامی یرغلونو زمینه یې د ملګرو ملیتونو پر یوشمیر ځانته آزاد او خپلواکو هیوادونو باندی رامنځته کړی،او په نتیجه کښي دا هسی وضعیت او حالت رامنځته سوی دی چې یو شمیر لوی هیوادونه چې په نړی کښې د یو اساسی او مثبت دریځ اورول درلودونکی دی،لکه د چین او دروسیی د هیوادونو په شان، د هغوی ورول لوبول اوو دریځ دی ته هم هیڅ ډول توجو ونشی اوهغوی ته دی په درنه سترګه ونه کتل سی .

د نوی زاړه پالو د عقایدو څخه یو هم د حضرت "مسیح" چټک او ژر راتک و مځکی ته دی او دغه مسله د زاړه پالو بنسټیزه دنده جوړه وی، او د مسلمانو په وړاندی جګړی کول او پر ټولو سپیڅلو مځکو باندی ښکیلاک او واکمنی د نوی زاړه پالو ددی ډلی اصولی، اساسی او بنسټیزی موخي دي. دوي نوری ډلی او نور سازمانونه او نور خلک ترهګر،بنسټپال او دهشتګر بولی او په دی باور دي هرڅوک چې ددغو ډلو نه وي، دوي په هاند سره دا خلک دا هسی دښمنان دی چې هر څه ژراوپه چټکی سره باید له ریښی نه ورک سی او له منځه دی ولاړسي.

استیون هلبر او "جاناتان کلارک"، دوي دوه لیکوونکی دی چې دغه دوه لیکونکی د، ((نوی زاړه پال اونړیوال نظام)) د کتاب لیکونکی هم دی او دنوی زاړه پالو د کړنلاری او ایډی بنسټیز اصول عبارت، د ایمان او عقیدی نه بولی، او د "خیر" او "شر" ترمنځ جګړه په دی کتاب کي توضیح کوی او وریپژنی یې، او پر دغه بنست "لئو اشتراوس" د نوی زاړه پالو یو نامتو کارپوه چې د المان (جرمنی) څخه و امریکي ته کډوال سوی دی ددی غوښتوونکی سو چې د امریکا هیواد دی باید د نړي د یو ستر او ځانګری واکمن او ځواکمن په توګه دی، د شر، ترهګری او بنسټ پالی په وړاندی جوړ او رامنځته سی . نوی زاړه پال د اقتصاد په هکله یې د یوی نوی لیبرالستیي استراتیژی طرح یې رامنځته کړی دی، چې ددی لیبرالستیي طرح پر بنسټ دی، نړیوالو کیدلو چاری دی د امریکایي پروسی پر اصولو او پرنسبونو دی سم رامنځته سی، او دغه پروسه دی د تولیداتو د پراختیا نړیوال کیدل،د ځای پرځای راکړی او ورکړو چاری، دټیلی کمونکیشن او نور پرمخ تللی او مدرنو تخنیکی وسائلو او سیستمونو پوهنه،ټول ددی ارزښتونو، عقایدو، اصولو او سوچونو څخه ګڼل کیږی .

همدارنګه د ټولنیز سیاست په هکله دا هسی وړاندیزونه او طرحی لری چې اساسی بنسټ یې د شتمنو او پانګه لرونکو څخه پلوی کوی، او همدارنګه د لوی او سترو شرکتونو او سرمایدارانو او پانګه اچوونکو څخه په ټینګه ملاتړ کوی ،ځکه چې دغه

ډول شتمن خلک، او د سترو شرکتونو خاوندان، سرمایدارانو او پانګه اچوونکی دي، چې دغه ډله خلک تل پاتي واك لري او وسياسي بدلونونو او ټولیزو افکاروته کومه اعتنا نه لري او دوي تل د خوارانو او غریبانو او د خوارو، نادارو او پقیرو قشرونو په تاوان دی، نه د دوي په ګټه ،چې دغه وګړي او پرګني د ټولنی اکثریته او ډېره برخه او زیات خلک جوړه وی، او دغه لړه کی د ټولنی د یوی لوی برخی پرضد دي .

نوی زاړه پال د هغه فرهنګی انقلاب سره چې د شپېتمی لسیزی په کلونوکښې چې د امریکی په هیواد کي رامنځته ســو،چې ددغه انقلاب پلویانو د لړه کیو او د اقلیتونو، د ښځــو او د ځــو ډولیزو فرهنګی او کلتوری دودونو نه یي په دفاع او په ملاتړ سره د ټولنی دغه ټولنيز مسائل يې خپل شعار ورګرځول،زاړه پالو ددوي په وړاندی یې په مخالفت کې قرار ونیول او په دی عقیدی باندی وه چې کیدی سی دغه ډول انقلابی خوزښتونه د امریکی د ضعیفه کیدو او د نړیوال دریځ د ټیټیدو سبب به وګرځی .

جیمي کارتر د امریکی پخوانی جمهور رئیس په خپل کتاب کې ((د امریکی ازرښتونه د خطرسره مخا مخ دی)) تردی عنوان لاندی ګواښ وکړ چې نوی زاړه پال ددی افکارو په تبلیغولو او ترویجولو سره چې داهسی وایي :(( هر څوک چې زموږ سره نه دی هغه زموږپرضد دی)) دغه خلک د خپل امپریالستی فلسفی سره په نړی کې د امریکی د حیثیت او اعتبار د پاره ستر خطر ګڼل کیږی .

*www.ayenda.org*